UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی بیانیه
http://unama.unmissions.org

**ستفان دی میستورا**
**د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی**

**د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا د ټاکنو د وروستیو پایلو د تصدیق په اړه**

د نومبر ۲۴ نیټه، کال ۲۰۱۰: ملګري ملتونه د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا د ولسي جرګې لپاره د سپتمبر د ۱۸ نېټې د ټاکنو وروستی پایلې په پیاوړی توګه ستایي، چې د ۳۵ انتخاباتي حوزو څخه ۳۴ انتخاباتي حوزې په کې شاملې دي.

مونږ د خپلواک کمیسیون د پریکړې ملاتړ کوو، چې د غزني د ولایت د ټاکنو د پایلو لپاره نور وخت ته اړتیا لري.

د پایلو وروستی تایید د کمیسیون او د شکایتونو د کمیسیون د غړو د ځو میاشتو د کار او زحمت نتیجه ده. په داسې حال کې چې مونږ په ټاکنو کې ډیرې بې نظمۍ او درغلۍ ولیدې چې په ټول ټاکنو کی تر سره شوې، د خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون هڅې او ژمنې چې د دغو ستونزو د تشخیص کولو او حل کولو لپاره یې ښودلې دي په افغانستان کې د ټاکنو په باب د ظرفیت د لوړولو په لوري یو مهم ګام ګڼل کیږي.

د نوي پارلمان جوړول به په افغانستان کې د ولس واک حکومتداري او د افغاني موسساتو د تقویې په لوري چې خپلو خلکو ته خدمتونه وړاندې کړي، یو مهم ګام وي. دغه پرمختګونه د افغانستان په هڅو کې مهم پړاوونه دي چې ثبات، او پایداره سولې ته ورسیږي.

**Strategic Communication and Spokespersons Unit**
United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA)
Kabul, Afghanistan Tel: 079 000 6121; +39 083 124 6121

http://unama.unmissions.org
Subscribe online to ensure you receive news from UNAMA.